سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۱۰/۲۹

# دیووالی مینه

## د استاد الفت آهنګ په غوښتنه.

### د یووالی مینه

(غزنی سندره)

ګوره لیلو ګوره
ډاریږی چی له موره
لستوني راوکوی ګوتی ساتینه!
===
پکتیا کی او چت غرونه
نختر یی په سرونه
لمن کی یی ځوانان اتڼ کوینه!
===

که لاړ شی کندهار ته

باغونو د انار ته

خالی ځولی ورځي ډکې را ځېنه!

===

د مینی ننګرهار کی

د سرو ګلونو هار کی

ګلونه د نارنج عطر پاشېنه!

===

کابل نه تر مزاره

خوندونه دي بی شماره

په ټول وطن کی ورونه ژوند کوېنه!

===

څلورو دروازو کی

د زړونو په دیرو کی

څلور د ننګ برجونه جوړوېنه!

===

راغلی کلیوال تول

تول شوی وطنوال تول

یو بل ته سره غاړې ورکوېنه

اګست/۱۶/۲۰۱۴

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

د یــو والی مــینه

kliwal_s_de_yaowaaley_mina.pdf